د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: hhttps://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د سلام پوهنتون ملي علمي کنفرانس د مقالو د ټولګې د نشر په مناسبت، د څېړنې، تألیف او ژباړې رئیس پیغام!

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الحمدُ لله، والصلاةُ والسلامُ على رسولِ الله، أمّا بعد:

د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست په استازیتوب، د سلام پوهنتون له لوري د سلام ملي علمي کنفرانس د مقالو د ټولګې د بریالي تدوین او رسمي نشر له امله، د سلام پوهنتون درنې رهبرۍ د ستاینې ترڅنګ، نوموړې ته د زړه له کومې صمیمانه مبارکي وړاندې کوم او دا علمي هڅه د علمي بهیر د پیاوړتیا په لور یو ارزښتمن ګام بولم.

یاد ملي کنفرانس چې"بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو مهاجرتونه؛ عوامل، پایلې او حل لارې" تر عنوان لاندې ترتیب شوی و، د هېواد له مهمو ټولنیزو او اقتصادي واقعیتونو څخه یوه موضوع ته په علمي، تحلیلي او مسؤولانه بڼه رسېدنه کړې ده. دا اثر چې په یاد کنفرانس کې د وړاندې شویو مقالو ټولګه ده، د علمي څېړنې، واقعي تحلیل او د حل‌لارو د وړاندیز له پلوه د قدر وړ علمي لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

د یاد کنفرانس په تنظیم او ترسراوي کې، د سلام پوهنتون د رهبرۍ هڅې د ستاینې وړ دي او همدارنګه د دغه کنفرانس له پیل څخه تر پایه، د لوړو زده کړو وزارت، د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست فعالې ونډې دا لړۍ لا پیاوړې کړه، تر څو دغه ټولګه د ملي او علمي معیارونو سره، لا برابره او د استفادې وړ وګرځي.

زه د کنفرانس د علمي کمېټې، د مقالو لیکوالانو، علمي ارزونکو او د سلام پوهنتون د رهبري او څېړنیز ټیم رسمي ستاینه کوم، چې د علمي صداقت، مسلکي ژمنتیا او مسؤلانه چلند له مخې یې دا علمي اثر بشپړ او د نشر تر مرحلې ورساوه. تمه ده چې دغه ټولګه به د مهاجرت په برخه کې د پالیسۍ جوړونکو، علمي بنسټونو، څېړونکو او زده کړیالانو لپاره یو مهم علمي مأخذ وګرځي او د واقعي حل‌لارو په موندنه کې رغنده رول ولوبوي.

د لا زیاتو علمي بریاوو په هیله.

په درنښت

دوکتور حمیدالله مزمل

د څېړنې، تالیف او ژباړې رئیس